Balkh International Journal of Social Science

ISSN – P 0000 -0000 E: 0000- 0000
Vol. N NO.1 2025
URL: https://bjss.ba.edu.af/index.php/bjss

د مفهومي استعارې اړتیا او ارزښت

# Necessity and Value of Conceptual Metaphor

1. Rahmatullah Hakimi[1]
Senior Teaching Assistant, Faculty of Education, Paktika University,
2. Assadullah Nasiri
Senior Teaching Assistant, Faculty of Language, Balkh University

**Received: 01/7/2025 Accepted: 31/10/2025 Published: 04/12/2025**

## Abstract

Metaphor, beyond its rhetorical ornamentation, serves as a fundamental cognitive and communicative tool in human language. Because language lacks the capacity to express all concepts with complete clarity, it often relies on one domain of experience to conceptualize another. This transfer of meaning, known as *conceptual metaphor*, enables abstract and complex ideas to become tangible and comprehensible. By allowing one concept to be understood through another, metaphor provides interpretive clarity, reduces linguistic ambiguity, and enriches communication with literary depth. This study employs a descriptive, library-based method to examine the emergence and nature of conceptual metaphor in linguistic contexts, focusing on its functions, effectiveness, and necessity in human expression. The findings reveal that conceptual metaphor plays a pivotal role in explaining abstract and intangible phenomena, facilitating comprehension, and imbuing language with creativity and aesthetic quality. The discussion highlights that conceptual metaphor is not merely a linguistic device but a vital cognitive mechanism that reflects human perception and understanding of reality. Consequently, it contributes both to the

[1] Email: rahmatullah.hakime@gmail.com

intellectual and artistic dimensions of language, making it indispensable in interpreting daily experiences, emotional states, and abstract thought.

**Keywords:** conceptual metaphor, linguistic communication, abstraction, cognition, aesthetics

## لنډیز

استعاره د بلاغي ارزښت ورهاخوا له ژبني فهم او تفهیم سره مرسته کوي. ژبه دومره پراخه مانیزه تومنه نه لري، چې هر څه کټ مټ مانا او تر لوستونکي انتقال کړي؛ نو مجبوره ده په یوه مفهوم د پوهېدا لپاره بل مفهوم را پور کړي. د مفاهیمو د لېږد را لېږد یا پورونې دغه عملیه «مفهومي استعاره»[1] بلل کېږي، چې پر مټ یې ناملموس، انتزاعي، پېچلي مفاهیم حسي او مفهومي کېږي. په یو څه پوهېدل د بل څه د پېژندنې ښه ادرس دی، چې د ژبني ابهام دله منځه وړلو او د مخاطب په غوره پوهولو کې مرسته کوي. دا څېړنه روښانوي، چې د ژبني افهام او تفیهم په نړۍ کې مفهومي استعاره د ګڼو ناملموسو او انتزاعي پدیدو د تشریحي ځواك لرلو او ژبني فهم سربېره نا اشناتوب او ادبي رنګ هم لري. دلته ( په ژبنیو مسایلو کې د استعارې منځته راتګ، مفهومي استعاره، د مفهومي استعارې مؤثریت، اړتیا او ارزښت) سرلیکونو باندې د کتابتوني ډول او تشریحي میتود څخه په ګټه اخیستنې څېړنیز بحث شوی، چې په پایله کې مفهومي استعاره د ورځني ژوند د ګڼو اړخونو، پدیدو، انتزاعي مسایلو، قلبي او ذهني تمایلاتو د تفسیرولو او کلام ښکلي کولو له اړخه ارزښتناکه او مبرمه ګڼل شوې ده.

**آر وییونه**

استعاره، ژبه او استعاره، مفهومي استعاره، د مفهومي استعارې ارزښت

**۱.سریزه**

د پدیدو تر منځ د بېلا بېلو اړخونو او اړیکو کشف د مخیلې قوې کار دی، چې استعاره پکې لوی لاس لري. ژبه تخیلي ځانګړنه هم لري، له دې لارې هم د نړۍ د درک توان لري. معاصرې ژبپوهنې په ځانګړي ډول ادراکي ژبپوهنې دا روښانه کړه، چې استعاره د انساني ادراک مهمه وسیله ده. جورج لیکاف او جانسن په ګډه د (استعارې چې موږ ورسره ژوند کوو)[۲] تر سرلیک لاندې یو بشپړ اثر پرې ولیکه، چې استعاره یې د کلامي زینت ور ها خوا په اداراکي علومو په ځانګړي ډول ادراکي ژبپوهنه کې د انساني ادراک مهم فکتور او د ژوند کولو وسیله وګڼه. په پښتو ادب کې د بلاغي علومو له اړخه په استعارې ګڼ بحثونه شوي دي او د شعري زینت مهم عنصر ګڼل شوی دی. له ژبني اړخه ډاکټر ښکلي د «ژبپوهنې نظریې» اثر کې د «استعاره د انسان د ادراک وسیله ده» او رحمت الله حکیمي د علومو اکاډمۍ اړوند کابل مجلې د ۱۳۹۸ ل په لومړۍ ګڼه کې د« استعارې کیف » تر سرلیک لاندې د ادبي او ژبنیو استعارو په توپیر او ارزښت د مقالو په کچه خبرې کړې دي؛ ولې په ځانګړي ډول د مفهومي استعارې په ارزښت د مقالې او اثر په کچه خبرې نه دي شوې، یوازې د ډاکټر اجمل ښکلي د پوهاندی اثر « د ادراکي ژبپوهنې په رڼا کې د پښتو ګرامر څېړنه »کې د مفهومي استعارې او د هغه د بېلګو لنډه یادونه شوې ده.

بلاغي علوم د استعارې بنسټ په ورته اړیکو او تشبیه ولاړ ګڼي؛ خو استاد ښکلی د لیکاف او جانس له قوله لیکلي: « دا استعارې دا دودیز تعریف څکه سم نه دی، چې استعاره یوه کلمه نه، بلکې یو رغښتي مفهوم دی او د یوه مفهوم لپاره د بلې مفهومي دایرې د مفاهیمو پورونه ده.» (ښکلی، ۱۴۰۱، م. ۱۸۶)

استعاره په بلاغي علومو کې د تخیل رامنځته کېدا او ښکلا زېږونې بهترینه ذریعه او د کلام د نااشناتوب او هنریت ځانګړې لار ده؛ مګر په ژبپوهنه کې د مفاهیمو د تعبیر او درک کولو بنسټیز عنصر بلل کېږي، څکه ژبه د ګڼو منځپانګو د تفسیر او توضیح لپاره ټاکلي ژبني عناصر نه لري؛ نو مجبوره ده چې له مفهومي استعارې څخه کار واخلي. دا سمه ده، چې استعارې د مفاهیمو په لېږد را لېږد کې بنسټیزه ژبنۍ دنده لري؛ ولې ادبي نقش یې هم خورا بارز دی، څکه اساس یې په نا اشناتوب، غیر عادي والي او ښکلا کې پټ دی. رحمت الله حکیمي لیکي د ژبنیو او ادبي استعارو په توپیر کې لیکي: « ادبي استعارې د تخیلي قوې پر مټ جوړېږي او د عادي استعارو موخه یوازې افهام او تفهیم وي نه خوند او لذت.» (حکیمي، ۱۳۹۸،م. ۱۰۰)

په معاصره ژبپوهنه کې د ژبنیو استعارو اړتیا په دې محسوسه شوه، چې له مانیز اړخه د انتزاعي او پېچلو مفاهیمو درک کول د ژبې لپاره یو چلینج ؤ، همدې ستونزې پوهان اړ کړل، چې د دې ډول مفاهیمو د مانیز تعبیر لپاره یوه لار پیدا کړي، هغه وو، چې په استعاره یې منګولې ټینګې کړې او دا یې روښانه کړه، چې زموږ چلند، طرز تفکر او ژبه د استعارې په جال کې نښتې ده، چې په ژبني افهام او

تفهیم کې باید ګټه ترې واخیستل شي. دا باید روښانه شي، چې مفهومي استعاره د مفاهیمو په درک څومره مرستندویه ده؟ ولې د ځینو مفاهیمو د تعبیر لپاره د استعارې غیږې ته پناه وړو او د مفهومي استعارې اړتیا او ارزښت په څه کې دی ؟ ژبني افهام په مفهومي کولو ولاړ دی، چې مفهومي استعاره په کې ستر نقش لري او له دې ورها خوا د کلام په رنګینۍ او غیر عادي والي کې خپله دودیزه چاره تر سره کوي. دا چې مفهومي استعاره د تفیهم او نا اشنا کلام جوړولو بنسټیز توکی دی؛ نو همدې ته په پام په دې مقاله کې د کتابتوني ډول، تحلیلي او تشریحي میتود څخه په ګټه اخیستنې د مفهومي استعارې په پېژندنه، اړتیا، ارزښت او مؤثریت څېړنیز بحث کوو.

## ۲. په ژبنیو مسایلو کې د استعارې منځته راتګ

ژوند د ګڼو استعارو کور دی، کوم چې د ژبې په وسیله په افهام او تفهیم کې را برسېره کېږي. له ژبني اړخه موږ له استعارې او استعاره له ژوند سره تړلې ده. محمد حسن عسکري وایي: «استعاره هغه وسیله ده، چې انسان او کائینات یو په بل کې مدغم کوي او دا د انساني ژوند له رګونو څخه را څاځي، له استعارې څخه انحراف له ژوند څخه انحراف دی.» ( رشیدي، ۱۳۹۳، م. ۲۴ )

په ادبي استعاره کې د مشابهت اړیکې ته په پام د یوې کلمې په ځای بله کلمه راوړل کېږي، ولې په ژبنۍ په ځانګړې ډول مفهومي استعاره کې په بشپړ ډول د مفاهیمو لېږد را لېږد صورت نیسي، هغه که د ګرامر په هر جوړښت کې وي. مفهومي استعاره د تشابه له اصل نه ورها خوا د مفاهیمو تر منځ نورې ګڼې اړیکې لکه:( مجاز، مجاورت، تناسب، تعامل، تضاد ... او نور ) را برسیره کوي. ( Metaphors We Live By ) اثر کې لیکاف او جانسن د ( مفاهیم چې موږ ورسره ژوند کوو/ Concept We Live By ) تر سرلیک لاندې بحث کې له مفاهیمو سره د ذهني تعامل په اړه ګټورې خبرې کړې دي لیکي: « زموږ ذهن ډېری مفاهیم او تجربې په نورو پېژندل شویو او پوهېدونکو مفاهیمو مفهومي کوي. استعاره یوازې د ادب پورې محدوده نه ده؛ بلکې په ورځني ژوند کې هره ورځ کارول کېږي، موږ د ژوند په بېلا بېلو برخو لکه ( سیاست، پیسو، محبت، حتی ورځنیو خبرو ) کې ترې ګټه اخلو.» Lakoff, G. (& Johnson, M.1980, p.3)

د لیکاف خبرې دقیقې دي، له ژبې نیولې تر کړو وړو او طرز تفکر پورې مو استعاره ملګرې ده، له استعارې پرته نړۍ نشو درک کولای. ادراکي ژبپوهان لیکاف او جانسن لیکي: « استعاره یوازې یوه ادبي وسیله نه ده، چې په شاعري یا نثر کې ښکلا رامنځته کوي، بلکې د انسان د فکر کولو، ژبې او نړۍ د پوهې یوه اساسي برخه ده، چې زموږ د ورځني ژوند په هر اړخه کې فعالیت کوي.» Lakoff, G. & (Johnson, M.1980, p.52)

د لیکاف او جانسن څېړنې د ژبنیو استعارو په اړه دقیقې دي. استعاره د مفاهیمو په درک کې لوی لاس لري، تر دې پورې، چې په غیر ارادي ډول یې د انسان طرز تفکر او چلند استعاري کړی دی. په ژبني افهام کې ګڼې استعارې موجودې وي؛ ولې وېناوال ته د ډېر تکرار له وجې مفهومي حقیقت

ښکاري، حال دا چې د مقصودي مفهوم لپاره به دا یو را پور شوی مفهوم وي. ژبنۍ او مفهومي استعارې له ټولنې او کلچر سره ټینګې اړیکې لري کومې د همغه ټولنې د ویوونکو په ژبه کې را برسېره کېږي، یو ډول میثاقي ارزښت لري، ممکن د یوې ټولنې ژبنۍ استعارې له بلې ټولنې سره متفاوتې وي. یو څه باید روښانه شي، هغه داچې ژبنۍ استعارې او ادبي استعارې په خپل خپل ځای کې د ارزښت وړ دي. ژبنۍ استعاري د افهام او تفهیم په غرض او ادبي استعارې د ښکلا زېږونې او روحي خوښۍ په موخه یو څه مفهومي کوي. دوکتور سروش شمیسا دا ډول استعارې په ژبه کې مروجې او عادي ګڼي، د ادبي استعارو موقف پرې لوړ بولي، په پایله کې لیکي:« د لیکاف خبرې دقیقاً مهمې دي، مګر موږ د ادبي استعارو له سنتي موقفه نه شي بې پروا کولای. » ( شمیسا، ۱۳۹۳، م. ۴).

### ۳.مفهومي استعاره[2]

هغه عملیه چې د یوه مفهوم د تفسیر، تحلیل او پوهېدا لپاره بل مفهوم را پور کړي مفهومي استعاره بلل کېږي. یو مشخص مفهومي ډومین د بل ډومین په واسطه توضیح او سپړل کېږي. هغه پېچلی مفهوم چې ژبه یې د تفهیمولو توان نه لري، د مفهومي استعارې پر مټ مفهومي کېږي. دا استعاره د نامحسوس، انتزاعي او پېچلي جهان د تفسیر، تفهیم او درک لپاره له یوه حسي او ملموس جهان څخه مفاهیم را پوروي. که دا عملیه مو په ژور ډول په تخیلي مزل روان کړي ادبي استعارې او که یوازې مو په غیر مستقیم ډول په مفاهیمو پوه کړي ژبنۍ استعارې رامنځته کوي. استاد ښکلی د لیکاف او جانسن له انده لیکي: « استعاره یوازې په ادبي ژبې پورې محدوده نه ده، بلکې د ورځني ژوند برخه ده او آن د انسان د ادراک لویه برخه پر استعاره ولاړه ده. » ( ښکلی، ۱۴۰۱،م. ۱۸۶)

د مفهومي استعارو په وسیله ویناوال او لیکوال کولای شي خپل ژور احساسات، تجربې، مشاهدې او مفاهیم تر لوستونکي ورسوي، همدې ته په پام یې ادبي ارزښت هم لوړ دی، ځکه انتزاعي او له حواسو لرې مفاهیم را نږدې، حسي او انځوریز کوي. څه چې زموږ حواسو ته نږدې شي، د هغې درک راته اسانه کېږي، له هغې سره روحي سکون او خوښي موجوده وي، چې په ادبي اړخ کې دغه سکون ښکلا او په ژبني اړخ کې په غیر مستقیم ډول حواسو ته د یو څه را نږدې کول، د هغې فهم او درک غوره پوهاوی رامنځته کوي. مفهومي استعاره بېلا بېل ډولونه لري لکه لوریزې، وجودي او رغښتي. دلته یې موږ د ډولونو له تشریح تېرېږو. یوازې په بېلګه ییز ډول د مفهومي استعارې اړتیا او ارزښت په ګوته کوو، هغه که د مفهومي استعارې په هر ډول کې راځي؛ تر څو روښانه شي چې ژبه په وینا، عمل، چلند او د ویناوال د طرز تفکر په انتقال کې استعارو ته څومره اړتیا لري؟ د مفاهیمو په درک کې راسره څومره مرسته کوي؟ لاندې فقرو ته پام وکړئ:

[2] - Conceptual Metaphor

I. ژوند استعاري دی.
II. ژوند له استعارو ډک دی.
III. د ژوند سمندر له استعارو ډک دی.

په لومړۍ فقره کې استعاره د ژوند د انتزاعي مفهوم ستاینوم گرځېدلې؛ ولې د ویناوال موخه داده، چې د ژوند هر اړخ استعاري وښیي. مگر لوستونکي ته د پورته جملې درک سخت دی. یو خو د (ژوند) کلمه له مانیز اړخه په انتزاعي فضا کې ولاړه ده او بل دا چې د استعارې په انتزاعي کلمې سره موصوف شوې؛ نو اورېدونکی او مخاطب د ویناوال د زړه دې مفهوم ته نشي رسېدلای، چې هېڅ شی او پدیده ذاتاً تکلمېدونکې نه ده، بلې ته اړه ده.

په ژوند کې د راکړې ورکړې پروسه مستمره وي، حتا تر دې پورې چې ژبې ته هم داخله شوې، چې په غیر ارادي ډول زموږ فکر، وینا او عمل استعاري رنگ اخیستی؛ نو اصلاً موږ په استعاري چاپیریال کې اوسېږو. له مانیز او مفهومي اړخه په لومړۍ فقره لوستونکی ځنگه پوه او قانع کړو؛ دلته مفهومي استعارې ته اړتیا پېښېږي، چې پوره په پوره راته یاده فقره زموږ حواسو ته را نږدې او مفهومي کوي. ددې لپاره چې ژبه د گڼ استعاري ژوند مفهوم لوستونکي ته ورسوي؛ نو لومړۍ استعاره د مظروف غونډې فرض کوي او له ژوند څخه ظرف جوړوي. څنگه چې موږ د ظرف او مظروف تر منځ د ډکوالي پروسه محسوس کړې او تجربه کړې؛ نو د (ډکوالي) مفهوم مو د استعارې د مظروف ښودولو او ژوند توصیفولو لپاره را قرض کوو، وایو: «ژوند له استعارو ډک دی.» اوس گڼ استعاري ژوند څه نا څه درک شو. لوستونکی دومره پوهېږي، چې د ژوند هر اړخ استعارې لري او د یو ظرف غونډې له استعارو ډک دی. د دې لپاره، چې د «ظرف» کلمې ابهام هم ختم شي، چې کوم ظرف؟ څه ډول ظرف؟ بیا ویناوال فکر کوي، چې له اوبو څخه مو د سمندر، ویالې او پیالې ډکوالی لیدلی؛ نو اوس له دې کلمو څخه کومه یوه د ظرف لپاره انتخاب کړو، چې د ژوند پراخه مفهوم واخلي؛ نو له پورته کلمو څخه د (سمندر) کلمې مفهوم را پور کوي او داسې وایي: «د ژوند سمندر له استعارو ډک دی.» د مفهومي استعارې پر مټ لومړی د گڼ استعاري ژوند د توصیف لپاره د «ډک» کلیمې په مفهوم سره ژوند مفهومي او ظرف فرض کړای شو؛ بیا د دې لپاره چې دا ظرف لوستونکي ته لا عیني او حسي کړي؛ نو د ژوند پراخه مفهوم لپاره یې «ویاله او پیاله» نه؛ بلکې د «سمندر» مفهوم را پور کړو او لوستونکي ته یې گڼ استعاري ژوند په دې جملې «د ژوند سمندر له استعارو ډک دی.» سره مفهومي کړو. دلته وینو، چې مفهومي استعارې پوره په پوره استعاري ژوند تعریف، مفهومي او حسي کړو؛ ځکه ژبې په خپل گرامري سترکچر او قاعده کې دومره توان نه درلود، چې د گڼ استعاري ژوند انتزاعي مفهوم یې په اسانه ډول را پېژندلی وای.

د سمندر په بېلګه کې بل مثال ورکوو. کله چې مخاطب ته د ژوند د سختیو، ګړاونو، هسکو ټیټو او ستونزو بیان کوو؛ که ووایو: ژوند مشکل دی. دلته لوستونکي ته د ویناوال احساسات په سمه بڼه انتقال نه شول، د «مشکل» لفظ نورې ګڼې پوښتنې هم په ذهن کې را پیدا کوي، ځکه ژوند او مشکل دواړه له مانیز اړخه بېرته په انتزاعي حالت کې پاتې شول. د دې لپاره چې له کړاو څخه د ډک ژوند انځور لوستونکي ته په سمه مانا د فهم وړ کړو؛ نو وایو: «د ژوند سمندر له مشکلاتو ډک دی.» دلته وینو، چې د مشکل ژوند د مفهومي کولو لپاره د سمندر مفهوم را پور شو. سمندر همېشه بهېږي، لوړې ژورې لري، له اوبو ډک وي، بېلا بېل ګټور او خطرناک موجودات په کې ژوند کوي او کله وارې ارزښتناک صدف هم په کې پیدا کېږي؛ نو لوستونکی فکر کوي، چې ژوند هم د سمندر غوندې لوړې ژورې لري. دې مفهومي استعارې معلومه کړه، چې ژوند د سمندر غوندې ظرف دی، چې د اوبو پر ځای له ګڼو ګړاونو ډک روان دی. دلته مفهومي استعارې سخت ژوند حواسو ته را نږدې، حسي او د سمندر غوندې یې له نږدې را باندې ولیدو.

### ۵.۴ مفهومي استعارې اړتیا او مؤثریت

له یوه اړخه ژبه له ویېزو محدودیتونو سره لاس او ګریوان ده، له بلې خوا د ګڼو منځپانګو تعبیر او تفسیر ور په غاړه دی؛ نو په کار ده چې د مفهومونو له لېرد را لېرد او قرض اخیستنې څخه ګټه واخلي، کوم چې دا چاره مفهومي استعاره ترسره کولای او ژبې اړتیا پوره کولای شي. په ټوله کې استعاره، په ځانګړې ډول مفهومي استعاره د پدیدو په درک، د مفاهیم په تعبیر او ژبني فهم کې خورا بنسټیز نقش لري، چې د اړتیا او مؤثریت موراد یې په لاندې ډول دي:

I. په افهام او تفهیم کې پېچلي او انتزاعي مفاهیم په ساده ډول د نورو ملموسو او حسي څیزونو غوندې مفهومي کوي او ژبنی ابهام له منځه وړي.

II. د انتزاعي پدیدو او څیزونو کموالی، زیاتوالی او لویوالی په حسي او عیني ډول اندازه کوي.

III. د ویناوال دروني احساسات، عواطف، فیصلې، طرز تفکر او قلبي تمایلات لوستونکي ته انتقالوي.

IV. یوې کلمې ته د ګڼ مانیز استعمال بستر جوړوي. د ګڼو ماناوو او مفاهیمو د بیان لپاره یوه کلمه په بېلا بېل ډول اړوي را اړوي.

### ۵.۵ مفهومي استعارې ارزښت

ژبه ډېری وخت ځینې مفاهیم په نورو مفهومي کوي. همدا د مفاهیمو راکړه ورکړه استعاره ده، چې د مفهومي استعارې نوم ورته اخلو. له مانیز اړخه ژبه په هغه څه ډېره برلاسې ده، چې حواسو ته نږدې وي. هغه څه چې زموږ حواس یې په درک نه توانېږي، هغه بیا استعاري ژبه راته مفهومي کوي او د نړۍ د درک توان راکوي. استاد ښکلي ډېر ښه ویلي:«استعاره په اصل کې یوه حسي تجربه ده، چې د انتزاعي مفاهیمو د بیان لپاره کارېدلې» (ښکلی، ۱۴۰۱،م. ۱۸۴).

ژبه مستقیماً د هر څه د مانا کولو او مفهومي کولو توان نه لري؛ همدا علت دی، چې له مفهومي استعارو څخه مرسته غواړو، چې په برکت یې ډېری پېچلي، انتزاعي او له حواسو لرې مفاهیم مفهومي کېږي؛ نو د استعارې دې کور ودان وي، چې د بلاغي علومو له ښکلاییز اړخ ورهاخوا په ژبني افهام او تفهیم کې هم زموږ ملا را تړي.

لکه پاس مو چې ذکر کړل، د مفهومي استعارې بل کمال دا دی، چې یوه کلمه د بېلا بېلو مفاهیمو د توضېح او تفسیر لپاره اړوي را اوړي او ګڼ مانیز اړخونه یې پیدا کوي. د بېلګې په ډول د ﴿زړه﴾ کلمه د وجود د حیاتي او ارزښتاناک غړي نوم دی، چې له بیولوژیکي اړخه د وینې پمپ کولو او نفس اخیستلو دنده لري؛ چې په ژبه کې یې پروټوټایپ مانا ﴿مرکزیت﴾ ده، لکه موږ چې وایو افغانستان د اسیا زړه دی. موخه دا ده، چې افغانستان د اسیا په مرکز کې دی. د هر څیز مرکز د موقیعت او مثبتو ځانګړنو له اړخه ارزښت لري، څنګه چې زړه هم د موقیعت او مسؤلیت له اړخه په وجود کې ځانګړی مرکزي حیثیت لري؛ نو همدې ته په پام د مهمو، اندېښنه لرونکوحالتونو او ارزښتناکو موضوعاتو د تفسیر لپاره د مفهومي استعارې پر مټ د ﴿زړه﴾ کلمې مانیز جال د بېلا بېلو مفاهیمو د تعبیر لپاره په ژبه کې ډېر خپور شوی، حتی تر دې پورې چې ګڼې ګړنې: ( زړه مې خولې ته راغی، زړه مې بوټ راویست، زړه مې وخوړ، زړه بایلل، ډېرزړی، زړه ګټل، زړه دربدل.... او نورې ) پرې جوړې شوي دي، چې له هرې یوې څخه بېلابېل مانیز تعبیرونه اخیستل کېږي.

د ارواښاد نصیر احمد احمدي د ناولونو غوره ځانګړنه همدا ګڼل کېږي، چې ژبه یې روانه، ولسي او عامیانه ده. لوستونکی ترې ژر فهم اخیستی شي. علت یې دادی، چې ډېری داستاني ګړنې یې د مفهومي استعارې په مټ جوړې شوي دي. دلته د نوموړي په ځینو داستاني جملو کې د ﴿ زړه ﴾ کلمه ګورو، چې د مفهومي استعارې په وسیله یې ګڼ مفاهیم مفهومي کړي دي. احمدي د پټان ﴿ناول﴾ په یوه برخه کې لیکي: «د ماماخیل بلې خبرې مې زړه بوټ را وایست، ویل یې چې په دې ونو کې پرانګان هم شته، کله کله لارې ته راوځي، تېر کال یې له یوې ښځې دوه کلن زوی وتښتاوه» (احمدي، ۱۳۹۷،م. ۱۶).

لوړ وینو، چې لیکوال د ﴿وېرې یا ډار﴾ انتزاعي مفهوم د مفهومي کولو لپاره د «زړه بوټ را اېستلو» مفهوم له یوې حسي تجربې او حالت څخه، لکه ونه چې له بیخه را وباسې را پور کړی دی او دغه ﴿وېره ﴾ یې پرې اندازه کړې ده. د موخه د ډار کچه معلومول دي، یعني تر دې کچې وډار شوم لکه څوک مې چې زړه را څخه وباسي. اصلاً خو زړه نه اېستل کېږي ولې د (وېرې/ ډار) لپاره د زړه کلمه د مفهومي استعارې پر مټ د یوه حسي او ملموس څیز په ډول فرض کړای شوه، کوم چې له بیخه را اېستل کېږي.

بل ځای لیکي: «... له کوره راووتو، تره مې له ځان سره ډونګېده. سل زړونه مې سره وتړل، علت مې وپوښت، را یاده یې کړه چې د پور یې کال واوښت، خو د ګټې پیسې یې لا نه دي راوړي. که دې نرمه ورته وویشته، بغان دې له لاسه وتلی بویه.» (احمدي، ۱۳۹۷،م. ۲۰).

په پورته کرښو کې د ﴿سل زړونه تړل﴾ اصطلاح د جرأت کولو لپاره یوه مفهومي استعاره ده، چې پر مټ یې د﴿ ډېر جرأت﴾ انتزاعي مفهوم مفهومي شوی. زړونه نه تړل کېږي، هدف دادی، چې ګڼې زړوتیاورې مې یوځای کړې او جرأت مې وکړو. د دې لپاره چې د سلو زړونو جرأت اندازه کړي؛ نو د مفهومي استعارې پر مټ د تړلو مفهوم د زړه کلمې ته راپور کوي او ډېر جرأت پرې اندازه کوي. لوستونکي ته د سل زړونو تړل د جرأت په خاطر داسې مفهومي کوي لکه یو څوک چې څو لښتې سره وتړي بیا کله په اسانه ماتېږي.

موږ په عامه ولسي ژبه کې ډېر ځله وایو، ښه شو پلاني مې زړه بېرته ځای ته راوست. هدف مو ﴿ ډاډ ﴾ وي، یعنې پلاني مو زړه اطمیناني کړ. د یو شي ځای ته راتګ دا مانا لري، چې مخکې بې ځایه و؛ نو طبعاً چې یو شی خپل ځای ته راشي ډاډ رامنځته کېږي او حواسو ته نږدې کېږي. پوښتنه دا ده، چې زړه خو داسې څیز یا موټر نه دی، چې لاړ شي او راشي؛ نو د﴿ ډاډ﴾ مفهوم د مفهومي کولو لپاره لومړی د ﴿تګ﴾ مفهوم له یوه ملموس څیز څخه زړه کلمې ته راپور کوو؛ بیا منلای شو، چې زړه د پلاني څیز غوندې بېرته ځای ته راغلی او په پایله کې ډاډ تر لاسه شوی دی. احمدي صیب لیکي: «... چوهدري ته مې وکتل، پوه شو، زما حیرانه څېره د پټېدو نه وه. وړې سترګې یې وځلېدې، زما د پوهېدو هڅه یې کوله؛ خو ما یې له خبرو داسې مانا وانه خیسته چې زړه مې بېرته خپل ځای ته راولي. په ذهن کې مې سل خبرې راګرځېدې » (احمدي، ۱۳۹۷، م. ۲۵)

په پورته کرښو کې د ﴿ زړه مې بېرته خپل ځای ته راولي﴾ هدف دادی، چې زړه مې مطمئن کړي، دا چې اطمئنان او ډاډ داسې مفاهیم دي، چې ژبه یې له مانیز اړخه په مستقیم ډول نشي تعبیرولای؛ نو مجبور ده، چې د بل مفهوم په واسطه یې مفهومي کړي، لکه دلته چې احمدي صیب د ﴿ زړه په بېرته راتګ ﴾ سره مفهومي کړي دي. لومړی یې د مفهومي استعارې پر مټ د یوه حسي او ملموس شي د ﴿ تګ﴾ ځانګړنه زړه کلمې ته راپور کړې بیا یې د ﴿ ډاډ / اطمئنان ﴾ انتزاعي کلمه پرې مفهومي کړې ده.

موږ په عامیانه ژبه کې د مفهومي استعارو سره دومره عادي شوي یو، چې اوس راته بیخي د یوه مفهوم کټ مټ مانا ښکاري، حال دا چې په حقیقت کې یې د استعارې پر وسیله مفاهیم را باندې درک کړي وي. د ﴿ جُوجو﴾ ناول کې هم وینو، چې ارواښاد احمدي صیب د ﴿ زړه ﴾ کلمه د مفهومي استعارې پر مټ په غیر ارادي ډول د بېلا بېلو مفاهیمو د بیان لپاره اړولې را اړولې ده، لیکي:

ـ که یې زړه درېدلی وای، بیا؟

جوجو وویل:

ـ ځوربدا ورته ښه ده، دی به تر اوسه په دې فکر کې وي، چې په رڼا ورځ یې څنګه په خپل کور کې خط او ګوتمې په خولې کې ورته کېښودل

......

تواب ژرندې ته کتل

جوجو وویل:

بښځایه مه ورېږه!

تواب په خبره کې ورولوېد:

ـ اوس هم د زړه په زور راغلم. جُوجو وویل : یوه ښځه مې ولیده، ماشوم یې د بلاوو او لېوانو په کیسو ویداوه...... ته هم نه یې ملامت، ډاډه یم، مور یا انا به دې دا رنګه کیسې درته کړې وي، څوک چې په ماشومتوب کې ووېروي، په لویوالي کې لوی زړه مه ورنه غواړه!

جُوجو غلی شو، تواب ته یې وکتل، هغه د ژرندې ړنګو دېوالونو ته وچې سترګې نیولې وې...

جُوجو وویل: مه وېرېږه، موږکان دي، په رالوېدلو وچو پاڼو ځېژي. تواب هماغسې ژرندې ته کتل

جُوجو وویل: اه ګرانه! زړه مه خوره، شپه تر ورځې ښه ده، انسانان ویده دي تاوان نه رسوي. (احمدي، ۱۳۹۲،مم. ۷۲ ـ۷۴).

د تواب او جُوجو تر منځ په پورته ډیالوګ کې د « زړه دربډل، د زړه په زور راتګ، لوی زړه او زړه مه خوره » په ترتیب سره د بې سیکه کېدو، بې سیکه حالت، جرأت او اندېښنې نه کولو انتزاعي مفاهیمو د مفهومي کولو لپاره مفهومي استعارې دي. په حقیقت کې مور « دربډل، راتګ، لویتوب او خوراك کول » د ملموسو، حسي او عیني موجوداتو لپاره کاروو؛ ولې دلته چې دا ځانګړنې زړه ته را پور شوې، علت یې دا دی، چې د « بې سیکه والي، جرأت او اندیښنې» مفاهیم مو پرې حسي او مفهومي کړي دي.

په استعاره کې د لیکاف او جانسن « سرچینه او موخن مفهوم » پېژندنې او ډلبندۍ ته په پام د استعاري مفهوم د ستون په ورزیاتېدو سره په لاندې جدول کې د ‹ زړه› کلمې ته پام وکړئ، چې مفهومې استعارې د بېلا بېلو مفاهیمو د تفهیم لپاره څومره اړولې او را اړولې ده.

| ګڼه | سرچینه مفهوم | استعاري مفهوم | موخن مفهوم |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | **لوی او کوچنی** | **ستا پلار لوی زړه درلود.** | **ستا پلار جرأت او زوړتیا درلوده.** |
| دا چې د ‹ زړه› په کلمه کې د ساه اخیستلو، حرکت کولو او ژوندي پاتې کېدلو مفهوم پروت دی؛ نو جرأت هم محرك کسان کولای شو. دلته له ‹ لوی زړه› څخه هدف دا نه دی، چې د حجم په لحاظ دې لوی زړه ولري، بلکې دلته ویناوال غواړي، چې د جرأت انتزاعي مفهوم څه نا څه زموږ حواسو ته د ستر‹ لوی› په کلمې سره حسي کړي، چې بالمقابل یې داسې هم ویلای شو، چې پلانی کم زړی ‹ بې جرأته› ؤ. | | | |
| ۲ | **تړل** | **سل زړونه مې سره وتړل.** | **له ډېر جرأت څخه مې کار واخیست.** |
| زړونه نه تړل کېږي، هدف دادی، چې څو زړوتیاورې مې سره یوځای کړې او جرأت مې وکړو. د دې لپاره چې د سلو زړونو جرأت اندازه کړي؛ نو د مفهومي استعارې پر مټ د تړلو مفهوم د زړه کلمې ته راپور کوي او ډېر جرآت پرې اندازه کوي. لوستونکي ته د سل زړونو تړل د جرأت په خاطر داسې مفهومي کوي لکه یو څوك چې څو لښتې سره وتړي بیا کله په اسانه ماتېږي. | | | |
| ۳ | **تګ** | **زړه مې بېرته خپل ځای ته راغی.** | **ارام شوم، اندېښنه مې ختمه شوه** |

<table dir="rtl">
<tr><td colspan="4">په زړه کې د حرکت مفهوم هم پروت دی، د دې لپاره چې ویناوال د اندېښنې او اراموالي انتزاعي مفهوم راته ښه مفهومي کړي؛ نو زړه ته د تګ مفهوم را پور کوي، په لوستونکي یې داسې حس کوي لکه د یو سړي غوندې چې مخکې بل چېرته تللی وي او اوس بېرته راشي، چې د هغې له تګ سره نا ارامي او په بېرته راتګ سره یې د سکون احساس کېږي. دې ته ورته نورې ګړنې هم موجودې دي، چې د مفهومي استعارې پر مټ د تګ مفهوم ورته را پور شوی لکه:( زړه مې ودرېد. زړه مې خولې ته راغی. ) چې له لومړۍ څخه موخه ورخطا کېدل، بې سیکه کېدل ، له حرکته لوېدل او له دویمې څخه استفراق کېدل هدف دی.</td></tr>
<tr><td>۴</td><td>خوړل</td><td>زړه مې خوړ.</td><td>اندېښنې مې کولې.</td></tr>
<tr><td colspan="4">زړه نه خوړل کېږي. ددې لپاره چې ویناوال د اندېښنو انتزاعي مفهوم د یو شي د خوړلو غوندې راته مفهومي کړي؛ نو د ( خوړلو) مفهوم له بل تجربه شوي او محسوس شوي حالت څخه را پور کوي او د زړه کلمې ته یې ورکوي.</td></tr>
<tr><td>۵</td><td>یو شي ته لوېدل</td><td>زړه ته مې ولوېده</td><td>یقیني شوه/ زړه مې ومنله</td></tr>
<tr><td colspan="4">زړه داسې ظرف یا کوهی نه دی، چې یو شی ورولوېږي. د دې لپاره چې د یقیني کېدو او زړه منلو خبره په لوستونکي حسي کړي. دا چې موږ نورو څېزونو ته د شیانو لوېدل لیدلي، څکه په دې ولسي ګړنه کې د خبرې منلو مفهوم لپاره د ( لوېدلو) مفهوم د زړه کلمې ته راپور کړو او لوستونکي ته دا په ډاګه کړو، چې دا خبره مې زړه ته ټېټه شوه او زړه مې ومنله.</td></tr>
<tr><td>٦</td><td>د یو څیز ورکول</td><td>زړه ورکول</td><td>جرأت ورکول/ له یو چا سره مینه کول</td></tr>
<tr><td colspan="4">زړه په جسمي لحاظ داسې څیز نه دی، چې چا ته ورکړل شي، نه یې یو څوک چا ته ورکوي. که فرضاً له طبي اړخه د بل خراب زړه په ځای ورکړل شي؛ نو ورکوونکی کس به خپل ژوند له لاسه ورکوي. اصلاً د زړه ورکولو فرضیه عقلاً د منلو وړ نه ده. دلته د ویناوال هدف دا دی، چې د ( زړه ) په کلمه کې له مانیز اړخه پرته منځپانګه ( جرأت، مینه، احساس او عاطفه) چاته ورکړي؛ نو د ( ورکولو) مفهوم ورته راپور کوي د ( جرأت او مینه ) انتزاعي مفهوم د زړه په ورکولو سره لوستونکي ته داسې حسي کوي لکه یو څوک چې قلم یا بل څیز چاته ورکوي. دلته د ویناوال هدف د (جرأت او مینې ورکولو) دی.</td></tr>
<tr><td>۷</td><td>د یوه څیز دربېدل</td><td>زړه مې دربېده</td><td>ډارېدم</td></tr>
<tr><td colspan="4">دربېدا د یوه غږ نوم دی، لکه یو څوک چې بام دربوي او له هغې څخه را وتلی اواز دربېدا نوموي، چې دا تجربه په ملموسو شیانو تر سره کېدای شي او معمولاً د دربې په کلمه کې د وېرې او ډار مفهوم پروت دی؛ نو ددې لپاره چې ویناوال دغه دربې لوستونکي ته د ملموسو شیانو غوندې حسي کړي او د ډار انتزاعي مفهوم پرې لا حواسو ته نږدې کړي؛ نو د دربېدلو مفهوم د بام، دروازې او نورو له دربېدا څخه د زړه کلمې ته راپور کوي.</td></tr>
<tr><td>۸</td><td>لاسته راوړل/ د یو څیز ګټل</td><td>زړه ګټل</td><td>په چا ځان ګرانول.</td></tr>
<tr><td colspan="4">زړه چارمغز یا مردکۍ نه دي، چې په لوبه کې له مقابل کس څخه وګټل شي. دا چې په ګټلو کې هم د لاسته راوړلو او تر لاسه کولو مفهوم پروت دی؛ نو ویناوال د زړه لاسته راوړلو انتزاعي مفهوم لپاره د ګټلو مفهوم را پور کړی تر څو د زړه لاسته راوړل لوستونکي ته د یوه ملموس او حسي څیز په ډول حسي او د هغه حواسو ته را نږدې کړي.</td></tr>
<tr><td>۹</td><td>له لاسه ورکول/ د یو څیز بایلل</td><td>زړه بایلل</td><td>مینېدل/ له زړه څخه مینه او عاطفه انتقالېدل</td></tr>
<tr><td colspan="4">زړه بایلل هغه استعاري مفهوم دی، چې د ( بایللو) لفظ په وسیله لوستونکي ته د یوه حسي څیز په ډول حسي شوی. لکه څنګه چې په بایللو کې یو څه له لاسه ورکول کېږي؛ نو دلته هم د زړه په بایللو کې له زړه څخه مینه او عواطف بل ته انتقالېږي.</td></tr>
</table>

| ۱۰ | را اېستل | زړه مې يې بوټ را وايست | ډېر يې وډار کړم . |
|---|---|---|---|
| د ورخطايي او وېرې لومړي اثرات په زړه لوېږي. که مو تجربه کړې وي، د وېرې په وخت کې زړه درېږي او رېږدي. د دې لپاره چې ويناوال د ډار انتزاعي مفهوم په حسي او ملموس ډول مفهومي کړي؛ نو د را اېستلو مفهوم له ملموس او حسي څيزونو څخه زړه ته را پور کوي او دغه وېره پرې اندازه کوي. دا چې د وېرې په وخت کې يوه وراني رامنځته کېږي؛ نو دلته وېره دومره شديده ښودل شوې، چې زړه يې لکه نيالګی له بېخه را اېستلی دی. | | | |
| ۱۱ | ماتېدل | زړه مې يې مات کړو | خپه يې کړم. |
| زړه لرګی يا بل څيز نه دی، چې مات شي؛ ولې ويناوال د دې لپاره چې لوستونکی د ‹خپه› انتزاعي مفهوم په مانا په حسي او ملموس ډول پوه کړي؛ نو څکه د ‹زړه› کلمې ته د ‹مات› مفهوم له يوه عيني، ملموس او حسي حالت څخه راپور کوي. ممکن د دغه استعاري مفهوم او موخن مفهوم مشترکه اړيکه داوي، چې په ماتېدو او خپه کېدو دواړو حالتونو کې خوشحالي نه وي، زړه بدوالی وي. استاد ښکلی ليکي: «موږ زړه د مينې او عاطفي مرکز بولو،چې له چا خفه يو( زړه يې را مات کړ» مفهوم ورته کاروو، چې زړه هم د يو مادي څيز غوندې ماتېږي.» ( ښکلی،۱۴۰۱: ۱۹۵ ) | | | |

دا ډېره لويه خبره ده، چې مفهومي استعاره مو د کلمو او عبارتونو په ګڼ مانيز استعمال او تعبير پوه کړي. د زړه کلمې سربېره په ژبه کې ګڼې نورې کلمې موجودې دي چې مفهومي استعاره يې په ګڼ مانيز تعبير کې لوی لاس لري. د بېلګې په ډول د ‹سترګې› کلمه، چې له ژبني اړخه يې پروټوټايپ مانا ‹ دقت او لېدل› ده؛ مګر وينو چې مفهومي استعارې د بېلا بېلو مفاهيمو د بيان لپاره په لاندې ډول اړولې را اړولې ده.

I. سترګې دې چېرته وې؟
II. سپين سترګي مه کوه!
III. راتګ ته مې دې سترګې څلور شوې.
IV. ډېر بې سترګو يې!
V. سترګې يې ډېرې درنې وې.

په لومړۍ جمله کې وينو چې سترګو ته ‹ تګ› ځانګړنه را پور شوې، حال دا چې سترګې تګ او راتګ نه کوي، ليکن ددې لپاره چې ويناوال د ‹پام کولو› انتزاعي مفهوم د مخاطب لپاره مفهومي کړي؛ نو د يوه ژوندي سري د تګ مفهوم ورته را پوروي، يعنې هدف دادی چې پام به دې کاوه، دا چې دقت او پام درڅخه نه دی شوی؛ نو البته سترګې به دې بل چېرته تللې وې.
په دويمه جمله کې وينو چې د ‹ خبرې نه منلو› مفهوم لپاره سترګو ته د سپين صفت راپور شوی. حکيمي د ‹ استعاري کيف› تر سرليک لاندې د‹سپين سترګي› اصطلاح اړوند ليکي: « ممکن د بې لحاظه کس لپاره مو د سپين سترګي اصطلاح څکه کارولې وي، چې سپين رنګ ډېر تېز وي، بل رنګ ژر نشي هضمولای، تور رنګ چې پرې له ورايه ښکاري هغه هم د هغه د سپين والي شدت وي، لکه سپين ټوکر چې د لمر وړانګې بېرته منعکسوي؛ نو سپين سترګی کس هم داسې وي چې د بل چا خبر

نه مني. د بې لحاظۍ او خبرو نه منلو مفهوم د ښه انتقال لپاره د سترګو کلمې ته د ( سپین ) مفهوم راپور او په منفي مفهوم سره وکارول شو. که ووایو: « پلاني سپینې خبرې کولې » دا هم مفهومي استعاره ده، چې موخه ترې عادل او ریښتیا ویونکی سړی دی، چې دلته د ( سپین ) کلمې مفهوم مثبت شو. خبرې رنګ نه لري، دلته له ( سپین ) څخه هدف پاکوالی دی، لکه سپین څیز چې شفاف وي او له لرې ښکاري؛ نو د پلاني خبرې هم داسې پاکې وې، دوه رنګي په کې نه وه. » ( حکیمي، ۱۳۹۸، م. ۹۹).

له درېیمې جملې( راتګ ته مې دې سترګې څلور شوې.) څخه د ویناوال موخه ( انتظار کول) دی، چې مخاطب ته وایي زیات انتظار مې وکړو؛ نو دا چې د انتظار انتزاعي مفهوم د لوستونکي لپاره څه ډول مفهومي کړي. له مفهومي استعارې څخه ګټه اخلي( سترګو) ته له یوه شمېر وړ عیني او ملموس څیز څخه د څلورعدد مفهوم را اخلي او انتظار پرې اندازه کوي. دا چې هر ځای وکتل شي د سترګو تعدد ته اړتیا ده، چې له خپل ځان نه په پورته عدد سره پوره کېدای شي. اصلاً سترګې نه څلور کېږي، لیکن ویناوال لوستونکي ته دا مفهوم رسوي چې زه دومره انتظار وم، چې دوه سترګو مې د څلورو کار کاوه، هرې خوا مې کتل.

له څلورمې جملې( ډېر بې سترګو یې!) څخه د ویناوال موخه دا ده، چې خپل مخاطب ته وایي، چې (ډېر بې لحاظ یا ډېر بې شرمه یې) ؛ نو بې لحاظي او بې شرمي انتزاعي مفاهیم لوستونکي ته د سترګو نه لرلو او بې سترګي والي سره مفهومي کوي، څکه که سترګې یې لرلای وړاندې وروسته به یې کتلای، کشر او مشر به یې پېژندلای، اوس داسې دی لکه ړوند د هیڅ شي تمیز نه کوي. اصلاً خو د مخاطب سترګې وي، دا چې دقت او وړاندې وروسته نشي کتلای؛ نو ویناوال یې له سترګو څخه خلاص بولي. لکه څوک چې لیک او لوست نه لري، خلک یې بې سواده بولي، دلته هم له عیني او محسوسو څیزونوڅخه د یوه شي د نفې کولو وییکی ( بې) له خپل مفهوم سره د سترګو کلمې ته را پور شوی، چې شته سترګې یې د ( دقت او پام نه لرلو ) له امله پرې نشته کړي او د بې لحاظۍ او بې شرمي مفاهیم یې پرې مفهومي کړي دي.

په اخري جمله کې له ( درنو سترګو) څخه د ویناول هدف دادی، چې سترګې یې نظیر لري، چا ته چې وګوري په نظیر کوي یې، څکه سترګې یې درنې دي. (نظر کېدل) په انسان کې مریضي، ناروغي او ویراني رامنځته کوي؛ نو څکه ویناوال لومړی د ( نظیرکېدلو) انتزاعي مفهوم د مفهومي کېدو لپاره سترګو ته د دروندوالي صفت له داسې مادي څیز څخه را پور کړی، چې وزن لري. کله چې سترګې د یوه بل مادي څیز غوندې درنې شوې؛ نو طبعاً د عادي سترګو غوندې کتل نه کوي، کتل به یې هم درانه وي، چې دا درانه کتل اصلاً یو چا ته له ماشاالله ویلو پرته په ځیر ځیر او په بېړه کتل دي، چې نظر رامنځته کوي. کله وارې په عامیانه ژبه کې داسې هم ویل کېږي، چې د پلاني سترګې دومره درنې دي، چې تېږه ماتوي. اصلاً نه سترګې درنې دي او نه تېږه ماتولای شي، بلکې یو چا ته په دقت او ځیرکتیا سره کتلای شي، لکه تېږه چې یو دروند شی ماتولای شي، دلته سترګې هم له ماشاءالله او برکتي الفاظو

پرته په خپل نظر سره یو څوک ناروغوالای او مریضوالای شي، چې بیا یې کار او روزګار ته ملا ماته وي. خلک وایي پلانی سترګو وهلی( نظر شوی). دلته بیا هم د مفهومي استعارې پر مټ سترګو ته د ( وهلی) مفهوم له یوه ساه لرونکي څخه راپور شوی، سترګې داسې چاره تر سره کړې لکه یو کس چې څوک وهي، کوم چې دلته دا وهل سترګو کړي دي او د نظر انتزاعي مفهوم پرې مفهومي شوی. لنډۍ هم پرې را غبرګېږي:

شامار خوړلی به خدای جوړ کړي

سترګو وهلی به همیش کړې فریادونه

لوړو خبرو او تحلیل ته په پام ویلای شو، چې مفهومي استعارې نه یوازې د ( زړه او سترګه) کلمې د بېلا بېلا مفاهیمو د تفسیر لپاره اړولې را اړولې دي؛ ممکن په ګڼو نورو کلمو هم داسې کانې وکړي.

که په ټوله کې د استعارې ارزښت ته پام وکړو، بیخي زموږ له ژوند، کړو وړو او طرز تفکر سره را لویه شوې ده. استعاره مو تفکر کولو او درک کولو ته رابولي، معید رشیدي وایي: «زه خو له هغې ورځې ویرېږم، چې د استعارې په اړه د فکر کولو واک به هم د انسان له لاسه ووځي. که داسې وشول؛ نو د تل لپاره به استعاره د مرګ په غېږ کې چوپه پاتې شي، د استعارې مرګ د ددې دنیا تر ټولو بده پېښه ده.» ( رشیدي، ۱۳۹۳،م. ۲).

د رشیدي خبرې دقیقې دي، عامیانه او ولسي ژبه خو بیخي د استعارې معتاده ده. په خبرو اترو، افهام او تفهیم کې استعاره تر دې حده کارېدلې، چې اوس بیخي د استعارې ګمان نه پرې کېږي، کټ مټ راته د موضوع حقیقي بیان ښکاري، چې د ډېری ګړنو، کړنو او انګېرنو په جوړولو کې یې ستر نقش لوبولی دی.

**۶.موندنې (Results)**

دې څېړنې روښانه کړه، چې مفهومي استعاره د ژوند بېلا بېل اړخونه مفهومي کوي. دا څېړنه د استعارې له بلاغي ارزښت ورهاخوا د هغې نور ګڼ مسؤلیتونه‌یې په ګوته کوي، لکه: د کلمو ګڼ مانیزوالی، د ویناوال د دروني تمایلاتو تظاهر او له مانیز اړخه د پېچلو انتزاعي مفاهیمو حسي کول، چې دا ټول د مفهومي استعارې اړتیا او ارزښت په زباد رسوي.

**۷.مناقشه (Discussion)**

پخوانیو لیکنو استعاره یوازې د کلامي زینت ذریعه ګڼله؛ ولې په نن کې د ګډځانګیز میتود له برکته د ادارکي علومو، ارواپوهنې او معاصرې ادراکي ژبپوهنې ارزښتناکه موضوع ګرځېدلې. په ژبنۍ برخه کې مفهومي استعاره د مفاهیمو د لېږد را لېږد، انتزاعي مفاهیمو د درک او د دروني تمایلاتو د تظاهر بهترینه وسیله ده؛ نو په کار ده چې د معاصرې پوهې په رڼا کې د استعارې په ځانګړې ډول د مفهومي استعارې په نقش او اړتیا څېړنې وشي، د ژوند د تفسیر او تعبیر دغه ارزښتناکه وسیله د ژبې او ادب لوستوالو ته لا ښه ور وپېژندل شي.

## ۸. پایله (Conclusion)

استعاره مو یوه واقیعت ته په نا اشنا لار رسوي. ذهني پروسس له دې سره خوښ وي، چې د یوه شي په درک پسې نااشنا مزل وکړي. د ګڼو پدیدو په تعبیر کې خپلمنځي اړیکې لوی لاس لري، چې د دې اړیکو را برسېره کوونکې او درک کوونکې سرخېله مفهومي استعاره ده. له بلې خوا ژبه د بېلا بېلو حالاتو، تجربو، کتنو، انساني دروني تمایلاتو او انتزاعي مفاهیمو مانیز توان نه لري؛ نو دې مفاهیمو ته لاس تر زنې نشي کېښناستلای، مجبور ده، چې له نورو مفاهیمو سره د ځینو ګډو تمایلاتو او اړیکو په اساس دغه پیچلي او انتزاعي مفاهیم حسي او مفهومي کړي؛ نو استعاره په ځانګړي ډول مفهومي استعاره د درک کولو توان راکوي، د ویناوال د طرز تفکر ژورو ته مو ټیټوي او ښه یې لا دا ده، چې د بېلا بېلو مفاهیمو د تعبیر لپاره یوې کلمې ته ګڼ مانیز بستر جوړوي، لکه د ګڼو مفاهیمو د بیان لپاره مو چې د بېلګې په ډول د ﴿زړه او سترګه﴾ کلمې د مفهومي استعارې له اړخه وڅېړلې. په ټوله کې ژبه د افهام او تفهیم په پروسه کې له مفهومي استعارې پرته چاره نه لري. دا چاره مو هم د مفاهیمو په تعبیر او مانا پوهوي او هم د کلام په رنګینی او زړه را ښکون کې را سره مرسته کوي. هیله مو دا ده چې لیکوال او څېړونکي دې ته ورته د معاصرې ژبپوهنې او ادبپوهنې نوي موضوعات او مسایل تحلیل او را وسپړي. یوازې په دودیزو مباحثو یې بسنه ونه کړي. د ګډ ځانګیز میتود څخه په ګټه اخیستنې د مسایلو ګڼ لیدلوري پیدا کړي.

## ۹.مأخذونه


احمدي، نصیر احمد. ۱۳۹۲ ل. *جوجو (ناول)*، جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.

احمدي، نصیر احمد. ۱۳۹۷ ل. *پټان (ناول)*، ننګرهار: مومند خپرندویه ټولنه.

حکیمي، رحمت الله. ۱۳۹۸ ل. *استعاري کیف*، کابل مجله درېیمه دوره، کابل افغانستان: علومو اکاډمي

ردی، مایکل. ۱۳۸۴ هـ ش، *استعاره مجرا*، ترجمه فرزان سجودی، استعاره: مبنای تفکر و ابزارزیبایی آفرینی (مجموعه مقالات) ، تهران: سوره مهر

رشیدي، معید. ۱۳۹۳ ل. *استعاره، تخیل او تخلیق*، د عبدالجمیل ممتاز ژباړه، ننګرهار: مازیګر کتاب پلورنځی.

ریچاردز، آی. اِ. ۱۳۸۲. *فلسفه بلاغت*، ترجمه جلیل تجلیل، تهران: انتشارات دانشگاه تهران.

شعبانلو، علی رضا. ۱۴۰۱هـ ش، *نقد نظریه استعاره مفهومي*. سال ۴، شماره ۸ ، تهران: پژوهش های بین رشته ای ادبی.

شمیسا، سیروس. ۱۳۹۳ ل. *بیان*، چاپ چهارم، تهران: انتشارات میترا.

ښکلی، اجمل. ۱۴۰۱ل، *د ژبپوهنې نظریې*، کابل: پکتوس خپرندویه ټولنه.

فرای، نورتروپ. ۱۳۹۰هـ ش، *تحلیل نقد*. ترجمه صالح حسینی، تهران : نیلوفر

قاسم زاده، حبیب الله، ۱۳۷۸ هـ ش، *استعاره و شناخت*. تهران: فرهنگان.

هالیول، استیون. ۱۳۸۸ هـ ش، *پژوهش در باره فن شعر ارسطو*، ترجمه مهدی نصر الله زاده، تهران: انتشارات مینوی خرد.

Lakoff, G. & Johnson, M.1980, *Metaphors We Live By*, Chicago: University of Chicago Press.

Lakoff, G.1987, *Women, Fire and Dangerous Things*, Chicago: University of Chicago Press.

Mark J, Landau.2016, *Conceptual Metaphor in Social Psychology*, London: Routledge /Taylor& Francis Group.